**بسم الله الرحمن الرحيم**

## که یوه ټولنه دغه څلور ځانګړنې ولري؛ الله سبحانه وتعالی یې خلک صالح کوي او له مصیبتونو یې ساتي

(ژباړه)

امام قرطبي رحمه الله د الله سبحانه وتعالی د دغه قول په تفسیر کې وايي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الِّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾** [آل‌عمران: 21]

**ژباړه:** *هغو کسانو ته د دردناک عذاب زیری ورکړه، څوک چې د الله سبحانه وتعالی له ایاتونو (هغه چې په سترګو یې وینو او وایو یې) انکار کوي او پیغمبران په ناحقه وژني او هغه کسان وژني چې په عدالت سره امر کوي (او دوی د حق لارې ته رابولي)!*

وايي: «نقل شوی چې هره ځمکه چې په هغې کې څلور ځانګړنې وي، خلک به یې له مصیبتونو او بلاوو په امن او صالح شي: عادل امام او حاکم، هغه عالم چې د هدایت پر لار دی، هغه لویان چې په معروف امر او له منکر څخه نهې کوي او خلک د قران زده کړې او علم ته هڅوي او هغه ښځې چې با حجابه وي او خپل زینت او ښکلا د جاهلیت د وخت غوندې نه ښکاره کوي.»

عادل امام او حاکم هغه دی چې د خلکو چارې په غوره بڼه د اسلام له لارې اداره او سیاست کوي؛ له هغوی سره د چلند پر مهال له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږي او عدالت وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم عادل امام او حاکم د هغو اوو کسانو په سر کې یاد کړی چې د الله سبحانه وتعالی د عرش تر سیوري لاندې به وي. ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلیفه په توګه تر ټاکل کېدو وروسته په خپله لومړۍ خطبه کې وویل: «خبر اوسئ چې ستاسو تر ټولو زورور ماته کمزوری دی، تر هغه چې د کمزوري حق ترې وا نه خلم او تر ټولو کمزوری مو ماته تر ټولو قوي دی، تر هغه چې له قوي څخه د هغه حق وا نه خلم.»
دا ډول عدالت د اسلامي دولت په ټولو دورو کې شته. عمر ابن خطاب ته یې د ورور «زید ابن خطاب» قاتل، ابومریم راځي او ورته وايي: اې امیر المومنینه! الله زید ته زما په لاسونو اکرام ورکړ او هغه یې په خپلو لاسونو خوار نه کړ. حضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل: ایا د زید قاتل ته یې؟ ابومریم وویل: هو. عمر رضی الله تعالی عنه ورته وايي، له مخې مې لرې شه، په الله قسم چې تر هغه وخته به مې ښه درنه را نه شي؛ چې څو له وینې د ځمکې بد راځي. ابو مریم ورته وویل: ایا دا مې حق محروموي؟ عمر رضی الله عنه ځواب ورکوي: نه. وروسته ابومریم وايي: زه ستا حب ته څه اړتیا لرم؟ دا ښځې دي چې د محبت لپاره ژاړي. نو حضرت عمر رضی الله عنه ته د الله سبحانه وتعالی دغه ایت ور یاد شو:

**﴿وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾** [مائده: 8]

**ژباړه:** *د کومې ډلې دښمنۍ باید تاسو دومره ونه پاوري چې له عدالت څخه مخ واړوئ. عدالت وکړئ چې عدالت (په تېره بیا له دښمنانو سره) له تقوا سره نږدې اړیکه لري (او تقوا ته د رسېدو تر ټولو نږدې لاره او د الله سبحانه وتعالی له قهر څخه د لرې کېدو لپاره غوره وسیله ده.) له الله سبحانه وتعالی څخه تقوا وکړئ، ځکه الله سبحانه وتعالی پر هغو ټولو څیزونو خبر دی چې تاسو یې کوئ.*

د هغه قبطي کيسه خو مو اورېدلې چې اميرالمومنين، عمر ابن خطاب رضی الله عنه ته راغئ او له عمرو بن العاص څخه يې شکايت وکړ. عمرو بن العاص په يوه سيالۍ کې قبطي وهلی و او ورته ويلي يې وو چې د لويانو له زوی وړاندې کېږې؟ نو امير المومنين عاص او زوی يط، عمرو راوغوښتل او قبطي ته يې وويل: د لويانو زوی ووهه؛ هغه يې وهي او خپل قصاص اخلي. حضرت عمر رضی الله عنه عمرو ته وايي: له څه وخت راهيسې مو له موره ازاد زيږېدلي خلک خپل غلامان کړي؟

سلطان محمد فاتح د يوه جامع جومات د جوړولو امر کوي او يو نامسلمان انجنير يې څارونکی ټاکي. د دغه جومات ستنې د مرمرو وې او محمد فاتح دغه انجنير ته وايي چې جومات بايد داسې جوړ شي چې لوی او پراخه ښکاره شي. د لوړوالي اندازه يې ورته ټاکي خو انجنير په کوم دليل چې بايد د جوړولو پر وخت په پام کې نيول شوی وی، د جوماتې ستنې لنډوي. محمد فاتح چې دا خبره اوري، غوسه کېږي او امر کوي چې د انجنير لاس دې پرې شي. انجنير د دغه ظلم پر وړاندې کرار کې نه ناست او شکايت يې وکړ. سلطان محمد فاتح قاضي ته ورغئ او قاضي په خپل وار محمد فاتح راوغوښت او امر يې وکړ چې د دعوې د مقابل لوري پر وړاندې ودرېږي؛ د قضيې تر اورېدو وروسته قاضي امر کوي چې د محمد فاتح لاس بايد پرې شي. انجنير چې دا حکم واورېد حيران شو او ويې ويل: زه مې له دغې دعوې تېرېږم او يوازې د خپل مال بدل غواړم؛ ځکه چې د محمد فاتح لاس ګټه نه ورته رسوله. نو قاضي امر کوي چې هره ورځ دې قاضي ته ۱۰ نغدې سکې ورکړل شي؛ خو محمد فاتح د خپل لاس د ژغورل کېدو په خوښۍ او د خپل کار د پښېمانۍ په سبب پرېکړه وکړه چې انجنير ته دې هره ورځ ۲۰ سکې ورکړل شي.

دا حکم د داسې يوه سلطان پر وړاندې صادر شو چې د قسطنطينيې د فتحې په اړه حديث کې يې پيغمبر صلی الله عليه وسلم توصيف کړی او د قسطنطنيې فاتح دی. داسې يو کس چې ټوله اروپا پرې وياړي. يعنې په اسلامي دولت کې چې هر څوک؛ عدالت ورته رسېږي.

د هدايت پر لار روان عالم؛ امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي او د الله سبحانه و تعالی په لار کې د هېڅ ملامتوونکي له ملامتی نه وېرېږي؛ حق وايي، د حکامو انحراف سموي او د هېڅ ظالم وېره يې په زړه کې نشته. د زور او ثروت لپاره فتوا نه ورکوي، د درباريانو کاسه چپه کوي، خپل دين د ناڅيزه مال په بدل کې نه پلوري، د خلکو د ګټو او مصالحو لپاره شپه او ورځ کار کوي او چارو ته يې پام کوي او د اسلام دفاع کوي. هغه حق چې بايد اظهار شي، اظهاروي او چوپ نه پاتې کېږي؛ په هېڅ ستونزه يا قضيه کې شرعي حکم تر پښو لاندې نه کوي او د الله سبحانه و تعالی دا قول درک کوي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ يكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَينَاتِ وَالْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَينَّاهُ لِلنَّاسِ فِى الْكِتَابِ أُولَئِكَ يلعَنُهُمُ اللّهُ وَيلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ﴾** [بقره: 159]

**ژباړه:** «بېشکه څوک چې هغه څه پټوي چې موږ له روښانه دلايلو او هدايت څخه نازل کړي؛ وروسته له هغې چې په کتاب (تورات او انجيل) کې مو خلکو ته روښانه کړي، الله او لعنت ويونکي (که پرېښتې وي، که مومنان او که انس و جن) پر هغوی لعنت وايي (او د لله سبحانه و تعالی له رحمته يې ايستل غواړي)»

نو سفلو علماوو د الله سبحانه و تعالی د دين پر وړاندې خپل مسوليت ادا کړی او په رېښتيا د دين عاملين وو. حسن بصري په خپل وخت کې د عراق د والي، حجاج بن يوسف پر وړاندې په سرکښۍ او طغيان مبارزه وکړه؛ د وخت د علماوو له منځه يې د هغه

ناوړه کړنې افشا کړې او حق یې وایه. ابن سفیان ثوري چې د ابوجعفر منصور لخوا خپل مجلس ته وربلل کېږي؛ پر منصور نیوکه کوي چې د مسلمانانو له بیت المال څخه یې په حج کې ځان او ملګرو ته پرېمانه مال مصرف کړی. ابن سفیان ثوري ورته وویل: «په دغه سفر کې دې څومره مصرف وکړ؟» ځواب یې ورکړ چې نه پوهېږم، ځکه چې د دې کار لپاره معتمدین او وکیلان لرم. سفیان وویل: د قیامت په ورځ چې د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې ودرېږې او پوښتنه درنه وکړي؛ څه به ورته وایې؟ عمر بن خطاب چې حج وکړ، خپل غلام ته یې وویل: په دغه سفر کې مو څومره مصرف وکړ؟ غلام ځواب ورکړ: ۱۸ دیناره. عمر رضی الله عنه وویل: دا ته څه کوې! د مسلمانانو بیت المال خو مو ړنګ کړ.

ځکه خو ویل کېږي: «دوې ډلې کسان چې صالح او سم شي؛ ټوله ټولنه سمېږي او که هغه فاسد وي؛ ټوله ټولنه فاسدېږي؛ علما او حکام. نو علما چې فاسد شي، ټولنې به څوک اصلاح کوي!؟ څه ښه وایي: «څه چې خوسا شي مالګه به پرې ودوړوو؛ خو که مالګه خوسا شوه بیا به څه کوو!»

لویان او مشایخ امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي؛ د خلکو د سمولو او له انحراف څخه را ایستلو ته حریص وي او د اسلام په نظام کې یې د ذبولو لپاره هڅه کوي تر څو حق لاره پیدا کړي او پر صراط المستقیم روان وي. دوی خپل اعمال د الله سبحانه و تعالی له اوامرو سره سموي او د ځمکې پر سر متحرک قران وي. که داسې نه وي نور ټول به له عذاب سره مخ کېږي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ [انفال: 25]

**ژباړه:** «ځان له بلا او مصیبته لرې ساتئ؛ دا یوازې هغه نه نیسي چې ظلم کوي (که د ظالم مخه ونه نیول شي، وچ او لانده دواړه سوزي) او پوه شئ چې الله سخته سزا او محکمه لري»

دغه راز، خبره دا نه ده چې فرد یوازې صالح او یوازې د هغه فردي او اساسي عناصر سالم شي؛ بلکې پکار ده چې پر دې سربېره د نورو په اصلاح کې هم هڅه وکړي. نو پر ټولو؛ حکامو، علماوو او مشایخو لازمه ده چې د نورو په اصلاح کې برخه واخلي او خپل تکلیف ادا کړي. له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل شول: «که زموږ په منځ کې صالحان وي، هلاک به شو؟» هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هو؛ کله چې بدی ډېرې شي.» (رواه بخاري)
ښځې یې با حجابه وي؛ د جاهلیت پشان خپل سینګار نه ښیي او نه هغسې ځان سینګاروي؛ شرعي جامې اغوندي او په دې برخه کې الهي اوامر په پام کې نیسي:

﴿يدْنِينَ عَلَيهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ﴾ [احزاب: 59]

**ژباړه:** «او مومنو ښځو ته ووایه چې پر خپلو سرونو او بدنونو باندې ټکري (حجابونه) خواره کړي »

﴿وَلْيضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيوبِهِنَّ﴾ [نور: 31]

**ژباړه:** «او ښځې باید پر خپل ګریوان (سینو) ټکري (حجاب) خور کړي»

د هغو بلاوو او مصیبتونو له ډلې چې په اسلامي خاورو کې عام او خواره شوي؛ دا دي چې هره ښځه گمان کوي چې ټولې هغه جامې چې عورت پټوي، شرعي دي. ځینې لویان او مشران وینو چې له بې حجابه او متبرجو خبریالانو سره له کېناستو هېڅ حرج نه لري! گورو چې بې حجابه او متبرجې ښځې ښودل کېږي چې نورو ښځو ته الگو شي او ان تر هغو پورته وي! دا ټول فتنه خوروي او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**مَا تَرَكتُ بَعدِی فِتنَةً أَضَرَّ عَلَی الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ**» (رواه بخاری)

**ژباړه:** *تر ما وروسته د سړيو لپاره تر ټولو مضره فتنه ښځې دي.*

دا ځلور ځانگړنې که پیدا شي، خلک له بلا او مصیبته خوندي ساتل کېږي او ټولنه اصلاح کېږي. دا بهیر به همداسې روان وي.

**د الرایه مجلې له ۴٦٣ گڼې څخه**

**لیکوال: ډاکټر نبیل الحلبي – غزه (فلسطین)**